مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره:** ۹٦ (از ۲۲ الی ۲۹ قوس ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........................................ ۲

### د سي‌آی اې د شکنجو په اړه د خپاره شوي راپور شننه

- د راپور شالید او د څېړنې مېتود: ........................................ ۴
- د راپور پایلې او موندنې: ........................................ ۵
- د سي‌آی اې د شکنجه کولو طریقې: ........................................ ۷
- د سي آی اې شکنجې او بشري حقونه: ........................................ ۸
- امریکا له خپلو ارزښتونو(!) سره په جګړه کې: ........................................ ۸

### نقض حقوق بشر توسط مدعیان حقوق بشر

- شکنجه در زندان‌های امریکا: ........................................ ۱۰
- کتمان جنایات وحشتناک‌تر: ........................................ ۱۱
- خاطرات زندانیان سابق: ........................................ ۱۲
- تأثیرات این شکنجه‌ها بر امنیت جهان: ........................................ ۱۳

## مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې د امریکا د مشرانو جرګې له خوا د سي آی اې د شکنجو په اړه خپاره شوي راپور په تړاو د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزې څانګې شننې لولئ.

څو ورځې وړاندې د امریکا د مشرانو جرګې د استخباراتي جرګه ګۍ له خوا هغه چمتو شوی راپور خپور شو، چې د سي ای اې له خوا د بندیانو د شکنجه کولو د پروګرام په اړه څېړنه پکې شوې ده.

د امریکا د سنا مجلس د دغه راپور له مخې، سي آی اې مشکوک بندیان داسې شکنجه کول او د تحقیقاتو داسې لارې چارې یې کارولې، چې نه یوازې له بشري حقوقو سره په ټکر کې دي، بلکې خپله د امریکا له ارزښتونو سره، چې ځان د بشري حقوقو مدعیان ګڼي او له نورو هېوادونو سره د همدغو ارزښتونو له مخې تعامل کوي، هم مخالف دي.

دا چې د سي آی اې له خوا د شکنجو د طریقو کیفیت څه ډول و؟ دغو شکنجو څه پایلې درلودلې او اصلاً د امریکا په زندانونو کې څه تېر شوي؟ هغه موضوعات دي چې دلته یې د شننو تفصیل لولئ:

# د سي آی اې د شکنجو په اړه د خپاره شوي راپور شننه



د سي آی اې له خوا د بندیانو د شکنجه کولو او پوښتنو ګروېږنو په اړه د امریکا د مشرانو جرګې د استخباراتي جرګه‌ګۍ[1] مطالعه، چې په عام ډول د سي آی اې د شکنجه کولو راپور بلل کېږي، په ٦٠٠٠ مخونو کې لیکل شوی. د ۲۰۱۴ کال د دسامبر په ۹مه د دغې جرګه‌ګۍ مشرې ډیاني فیانستاین[2] د دغې اوږدې څېړنې لنډیز چې له لومړۍ پاڼې نیولې تر وروستۍ پورې، پر ۵۲۵ مخونو راټول دی[3]، نامحرم کړ.

دا چې امریکا هغه ٦٠٠٠ نور مخونه نه دي نامحرم کړي، داسې برېښي چې د امریکا دغه وحشتونه به له هغو نامحرم شوو څخه څو ځله زیات وي، چې دوی د دغه راپور په یوه وړوکي لنډیز کې رابرسېره کړي دي؛ خو دغه راپور بیا هم داسې څه لري، چې په نړیواله کچه یې د امریکا د بشر پالنې په ناړو تور داغ لګولی دی.

[1] United States Senate Select Committee on Intelligence

[2] Dianne Feinstein, Chairman Senate Select Committee on Intelligence

[3] په دغه راپور کې د ډیانیې فیانستیان مقدمه ٦ مخه، د راپور پایله او موندنه ۱۹ مخه، او پاتې د راپور بشپړ لنډیز په ۴۹۹ مخو کې راغونډ دی، چې د دغه راپور ټول مخونه ۵۲۵ کېږي.

## د راپور شالید او د څېړنې مېتود:

کله چې د ۲۰۰۱ کال د سپټامبر په ۱۱مه په نیویارک کې نړیوال سوداګریز مرکز د القاعدې شبکې له خوا په نښه شو، د امریکا ولسمشر بش د یوه فرمان[4] له مخې سي آی اې ته د ۲۰۰۱ کال د سپټامبر په ۱۷مه د شکنجو او نورو څېړنو اجازه ورکړه او وروسته د سي آی اې د شکنجه کولو او پوښتنو ګروېږنو په نوم پروګرام پلی شو.

د دغه پروګرام له مخې تر ۲۰۰۴ کال پورې ۱۱۳ کسان شکنجه شول او وروسته څلور تنه په ۲۰۰۵ کال کې، یو په ۲۰۰٦ کال او یو بل هم په ۲۰۰۷ کال کې ورته راوستل شو او ټول ۱۱۹ تنه شول.

د سي آی اې د دغه پروګرام وروستۍ شکنجه د ۲۰۰۷ کال د نوامبر په ۸مه وشوه او د ۲۰۰۸ کال له اپریل میاشتې وروسته سي آی اې د شکنجې لپاره یو کس هم نه درلود؛ ځکه د سنا مجلس په دغه راپور کې ادعا شوې، چې دا پروګرام په ۲۰۰۷ کې بند شوی و. خو لاهم ځرګنده نه ده، چې آیا امریکایي پوځیان او استخبارات اوس هم د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره له دغه ډول غیرانساني او وحشتناکو شکنجو کار اخلي کنه؟

د سنا مجلس جرګه‌ګۍ د سي آی اې د شکنجو او پوښتنو-ګرویږنو پروګرام په اړه، د ۲۰۰۹ کال په مارچ میاشت کې څېړنه پیل کړه؛ او د دې جرګه‌ګۍ د مشرې په خبره، د دغې څېړنې سرچینه له هغو ویډیوګانو څخه وشوه، چې په ۲۰۰۷ کال د سي آی اې له خوا د بندیانو د شکنجه کولو او ویرولو په تړاو خپرې شوې وې[5].

په ټولیز ډول دا راپور د سپټامبر د ۱۱مې له پېښې وروسته تر ۲۰۰٦ کال پورې د سي آی اې له خوا د بندیانو پر شکنجه کولو بحث کوي او د ۲۷۹۴ حوالو پر متن لیکل شوی دی.

د دغې جرګه‌ګۍ مامورینو د ۲۰۰۹ کال له لومړیو څخه د ۲۰۱۲ کال تر پای پورې، د سي آی اې له شپږ مېلیون څخه زیات معلوماتي مواد، چې عملیاتي او استخباراتي راپورونه، داخلي یادښتونه او ایمیلونه، د غونډو معلومات، د مرکو متنونه، قراردادونه او نور مواد پکې شامل وو، پلټلي دي او وروسته یې دا راپور ترې چمتو کړی دی. په کلي ډول دغه راپور له لومړنیو سرچینو په مرسته، چې ډیری یې محرم اسناد و، لیکل شوی دی.

[4] Memorandum of notification (MON)

[5] په دغه راپور کې د سنا د استخباراتو کومېټې مشر، ډیاني فیانسټیان، مقدمه: ۱ مخ

د دغې مطالعې لومړۍ مسوده د ۲۰۱۱ کال په اکتوبر کې جوړه شوه او د ۲۰۱۲ کال د دسامبر په ۱۳مه يې بشپړ راپور چمتو شو. د ۲۰۱۴ کال د اپرېل مياشتې په دريمه د امريکا د سنا مجلس استخباراتي جرګه‌ګۍ پرېکړه وکړه، چې د دغه راپور پايلې او موندنې د راپور له لنډيز سره د امريکا ولسمشر ته واستول شي، څو ولسمشر د دغه راپور د نامحرمه کولو حکم صادر کړي او وروسته بيا دغه راپور د عامو خلکو لاسرسي ته وړاندې شي.

## د راپور پايلې او موندنې:

د دغه راپور موندنې او پايلې په ۱۹ مخونو کې ليکل شوې دي، چې ټولې ۲۰ موندنې لري او په لاندې ډول دي:

1. د سي آی اې شکنجو او د پوښتنو-ګروېرنو طريقو د معلوماتو په ترلاسه کولو يا د همکارۍ په راجلبولو هېڅ اغېزه ونه ښندله.
2. له دغو شديدو پوښتنو ګروېرنو او له شکنجو ډکو تحقيقاتو وروسته، هغه مهم معلومات ترلاسه نه کړای شول، چې سي آی اې يې د ترلاسه کولو هڅه کوله.
3. پر بنديانو شکنجې له هغې کچې ډېرې وحشتناکې وې، چې سي آی اې يې په اړه پاليسي جوړوونکو او نورو لورو ته معلومات ورکول.
4. د بنديانو حالت له هغه حالت څخه ډېر له تاوتريخوالي ډک و، چې سي آی اې به پاليسي جوړوونکو ته بياناوه.
5. سي آی اې د امريکا قضايي ارګانونو ته، د شکنجه کولو او پوښتنو-ګروېرنو د پروګرام په اړه ناسم معلومات ورکول، چې په پای کې به د يوې قانوني ارزونې په لاره کې خنډ جوړېده.
6. سي آی اې به په عملي توګه د خپل دغه پروګرام په اړه د کانګرس له نظارت څخه ځان خوندي ساته او يا به يې د کانګرس د نظارت مخه نيوله.
7. سي آی اې د امريکا د سپينې ماڼۍ د اغېزناک نظارت او تصميم نيونې مخه هم نيوله.
8. د سي آی اې عملياتي او اداري پروګرام خورا پېچلی و او په ځينې مواردو کې به يې د اجرايوي ارګانونو د امنيتي ماموريتونو مخه نيوله.
9. سي آی اې به د سي آی اې د عام مفتش د نظارت مخنيوی کاوه.
10. سي آی اې هغه معلومات مطبوعاتو ته راوايستل، چې د سي آی اې د شديدو شکنجو د تأثير په اړه به پکې درواغ ويل شوي وو.
11. سي آی اې ته چې د شکنجو او پوښتنو-ګروېرنو د پروګرام په اړه اجازه ورکړل شوه، نو شپږ مياشتې وروسته د دغه پروګرام د مخته وړلو لپاره تيارى نه درلود.

12. د سي آی اې اداره او د شکنجه کولو او پوښتنو-ګروېږنو عملیاتو تر ډېره نیمګړتیاوې درلودې، په تېره بیا په ۲۰۰۲ کال او ۲۰۰۳ کال کې.
13. دوه قراردادي سایکالوجستانو د سي آی اې د شکنجه کولو د تخنیکونو پروګرام اختراع کړ، چې نه یې د تحقیق کولو تجربه درلوده او نه یې د القاعدې شبکې په اړه مشخص معلومات درلودل؛ په داسې حال کې چې همدغو دوو کسانو بیا د سي آی اې د شکنجه کولو او پوښتنو-ګروېږنو د پروګرام په عملیاتو، ارزونو او اداره کې اصلي رول لوباوه.
14. هغه د شکنجې کولو شدیدې طریقې چې سي آی اې به پر بندیانو پلې کولې، د امریکا د قضایي ادارو او د سي آی اې له مرکزه د تائید وړ نه وې.
15. سي آی اې د هغو کسانو په اړه چې شکنجه شول، هېڅ کوم لېست جوړ نه کړ او نه یې د هغو کسانو په اړه کوم لېست جوړ کړ، چې د شکنجه کولو په معیار برابر نه وو. د سي آی اې هغه ادعاوې، چې څومره یې کسان شکنجه کړي او څومره یې تر شدیدو شکنجو لاندې راوستي دي، سمې نه وې.
16. سي آی اې ونشوای کړای، چې په سمه توګه د خپلو شدیدو شکنجو د تخنیکونو د اغېزو ارزونه وکړي.
17. سي آی اې په ډېره کمه توګه هغه کسان محاسبه کړل، چې جدي تخلف یې کړی و او یا به په نامناسبو کړنو بوخت وو او یا هم په سیستماتیکي او شخصي اداري ناکامۍ کې ښکېل وو.
18. سي آی اې د شکنجه کولو او د پوښتنو-ګرویږنو د عملیاتي او اداري پروګرام په اړه ډېرې داخلي نیوکې موجودې وې، چې هغوی له پامه غورځولې.
19. د سي آی اې د شکنجه کولو او پوښتنو-ګرویږنو پروګرام د ۲۰۰٦ کال په پای کې له په مطبوعاتو کې د افشاګریو او د نورو هېوادونو د فشارونو له امله پای ته ورسید.
20. د سي آی اې د شکنجه کولو او پوښتنو-ګرویږنو پروګرام په نړیوالو چارو کې د امریکا حیثیت ته ضربه ورسوله او له امله یې مادي او غیر مادي تاوانونه ولیدل[6]،[7].

---

[6] د سنا مجلس د دغه راپور له مخې امریکا په دغه پروګرام ۳۰۰ ملیون ډالره ولګول او غیر مادي تاوانونه یې د امریکا له اتحادي هېوادونو سره د اړیکو په خرابوالي کې راووتل.

[7] وګورئ د سنا مجلس، د سي آی اې د شکنجو او پوښتنو-ګرویږونو په اړه راپور (مخونه: ۹-۲۵):

Committee Study of the Central Intelligence Agency's Detention and Interrogation Program (Pages: 9-25)

## د سي آی اې د شکنجه کولو طريقې:

د سي آی اې له خوا لومړی شکنجه کېدونکی کس ابو زبيده و، چې د پاکستاني ځواکونو له خوا په پاکستان کې ونيول شو او وروسته بيا امريکا ته وسپارل شو. ويل کېږي امريکايانو دی په بگرام زندان کې وساته. پر ده باندې د سي آی اې د شکنجو طريقې هره اوونۍ، ان هره ورځ تکرارېدې. دی به يې په څپېړو واهه، له ديوال سره به يې تاړه، بې خوبه به يې ساته او بربنډاوه به يې.

د سي آی اې د شکنجو په تخنيکونو کې يو هم د مصنوعي غرقولو يا (Waterboarding)[8] تخنيک هم شامل و. دغه تخنيک په فزيکي ډول ډېر ضررناک و. د دغه راپور له مخې ابو زبيده به بيخي بې سيکه شو او له خولې به يې بړبوکۍ راوتلې. د سي آی اې د داخلي ريکارډونو له مخې خالد شيخ محمد خو څو ځله د رښتينو ډوبېدلو حالت ته رسېده.[9]

د شکنجو نور قسمونه يې بې خوبي وه، چې يو بندي به پکې تر ۱۸۰ ساعتونو پورې بې خوبه ساتل کېده، دوی به يې په تېره بيا په دې حالت کې يا درول او يا به يې کله لاسونه د سر له پاسه ورتړل. د شکنجو نور ډولونه يې په يخو اوبو کې درول، په ماتو هډوکو تر ساعتونو پورې درول، پر بنديانو جنسي تېری کول او نور وحشيانه او غيرانساني ډولونه هم شامل وو.

که څه هم تر ۲۰۱۲ کال پورې د دغو شکنجو له امله، د امريکايانو په اند اوو کسانو ځانوژنه کړې ده؛ خو دا لا تر اوسمهاله معلومه نه ده چې آيا دغو بنديانو په رښتيا هم ځانوژنه کړې وه او که د امريکايانو د شکنجو له امله شهيدان شوي وو؟ د امريکايانو د همدغو وحشتناکو شکنجو له امله د گل رحمان په نوم يو افغان هم د ۲۰۰۲ کال د نوامبر پر ۲۰مه شهيد کړای شو.

---

[8] د بنديانو د شکنجه کولو يوه طريقه داسې وه، چې بندي پر يوې تختې څملول شو، پښې يې له سر نه پورته وې (پښې او لاسونه يې پر همدې تخته تړل کېدل) او بيا د بندي او شکنجه کېدونکي د تنفس اخستلو پر ځايونو مسلسلې اوبه ورځول کېدې، چې له امله به يې شکنجه کېدونکي د ډوبېدو احساس کاوه؛ ځکه خو د شکنجه کولو دغې طريقې ته مصنوعي ډوبيدل هم وايي.

[9] د سنا مجلس د استخباراتي جرگه گۍ په دغه راپور کې په دې اړه يو ايميل ته حواله ورکړل شوې ده، چې لا په دې اړه يې معلومات نه دي نامحرم کړي، چې دا ايميل د چا له خوا چا ته ليږدول شوی و. وگورئ

Committee study of the Central Intelligence Agency’s Detention and Interrogation Program (Pp: 10-25)

## د سي آی اې شکنجې او بشري حقونه:

د شکنجو پر ضد د ملګرو ملتونو د قانون[10] د لومړۍ مادې له مخې، شکنجه فزيکي او ذهني درد ته وايي چې درېيم لوری يې د معلوماتو او د اقرار په موخه ترسره کوي. د دغه قانون د دويمې مادې له مخې بايد د هر دولت قضايي، اجرائيوي او اداري ارګانونه د دغو شکنجو مخنيوی وکړي.

په ټوليزه توګه ويلای شو، چې د دغه قانون دوه مهمې موخې دا دي، چې: لومړی يې پر شکنجو بنديز لګولی دی او دويم دا چې شکنجه کوونکي بايد محاکمه شي.

د ملګرو ملتونو دغه قانون چې امريکا هم د ډېر شمېر هېوادونو ترڅنګ لاسليک او په ۱۹۹۴ کال کې يې تصويب کړی، د همدغه قانون له مخې بشري حقونه، د بنديانو حقونه او د ملګرو ملتونو نړيوال قانون تر پښو لاندې کړی دی او بايد هغه کسان محاکمه کړي، چې په دغه غيرانساني او وحشتناکو شکنجو کې ښکېل وو[11].

## امريکا له خپلو ارزښتونو(!) سره په جګړه کې:

امريکايي رسنۍ او ډېری امريکايي چارواکي ډېموکراسي، بشري حقونه، د نورو خپلواکۍ ته احترام، اخلاقي او نور ارزښتونه، د خپل هېواد ارزښتونه بولي؛ خو دا چې امريکا د خپلو دغو ارزښتونو په اړه څومره رېښتينې ده؟ که يوازې تېرې يوې لسيزې ته هم ځير شو، نو داسې يو انځور به وګورو، چې د امريکا کړنې له خپلو دغو ارزښتونو سره -که چيرې دوی په رښتيا هم کوم ارزښتونه لري- په ټکر کې دي.

دوی له يوې خوا د ډيموکراسۍ شعار ورکوي او د هغه چا په ضد يې کاروي، چې د دوی ګټو ته خطر وي؛ پر روسيې، چين، شمالي کوريا او ايران دا نيوکې لري، چې په خپلو هېوادونو کې ډيموکراسي نه پلې کوي؛ خو په مصر کې بيا د منتخب ولسمشر په مقابل کې د پوځي کودتا ننګه کوي.

---

[10] Convention against torture and other cruel, inhuman or degrading treatment or punishment

[11] ملګرو ملتونو هم په دې اړه اواز پورته کړی، چې بايد هغه کسان محاکمه کړ ای شي، چې د شکنجو او د پوښتنو-ګروېږنو په دغه پروګرام کې ښکېل دي. ولولئ د بشري حقونو ويب پاڼې دغه مقاله:

http://www.hrw.org/news/2014/12/13/cia-torturers-should-be-prosecuted

امریکا که له یوې خوا په اوکراین کې د روسیې مداخله د اوکراین د خپلواکۍ پرخلاف بولي، نو له بلې خوا یې د یوویشتمې پېړۍ په پیل کې افغانستان او عراق اشغال کړل او د عربي پسرلي پر مهال یې په لیبیا او نورو هېوادونو کې پوځي لاسوهنې وکړې. آیا د امریکا دغه کړنې د دغو هېوادونو د خپلواکۍ او ملي حاکمیت پر خلاف نه وې؟

امریکا که له یوې خوا د بشري حقونو نارې وهي او په همدې تور شمالي کوریا، ایران، روسیه، چین او نور ډېری اسلامي هېوادونه تورنوي، نو په څنګ کې یې دوی هم په ابو غریب، بګرام، او ګوانتنامو زندانونو کې هغه غیرانساني کړنې وکړې، چې تر پیړیو پیړیو پورې به امریکا ته پېغور وي. نړیوالو ته دا څرګنده ده، چې امریکا اصلاً څه ارزښتونه نه لري او یا هم سیاسي بنه لري.

## نقض حقوق بشر توسط مدعیان حقوق بشر



«من نمی‌توانم نفس بکشم» شعاری است که در این روزها در امریکا ورد زبان مخالفین سیاست تبعیض نژادی در این کشور است که اشاره به چگونگی کشته شدن یک مرد سیاه‌پوست بدست پولیس دارد. اریک گارنر سیاه‌پوست بدست پولیس در شرایطی خفه شد که فریاد می‌زد: «من نمی‌توانم نفس بکشم». هرچند رسانه‌ها سعی دارند که تنها پولیس این کشور را متمایل در نژاد پرستی نشان دهند، اما این ماجرا و تبرئهٔ پولیس قاتل توسط دادگاه نشان داد که نژاد پرستی و تبعیض علیه اقلیت‌ها در امریکا تنها به پولیس این کشور منحصر نیست، بلکه در سرشت نظام امریکاست.

امریکا کشوری است که خود را حامی حقوق بشر در جهان می‌داند و به همین بهانه کشورهای دیگر را مورد انتقاد قرار می‌دهد، اما تظاهرات علیه نژاد پرستی در بخش‌های بزرگی از این کشور نشان از واقعیت‌های درون جامعهٔ این کشور دارد.

### شکنجه در زندان‌های امریکا:

گزارش اخیر سنای امریکا در مورد شکنجهٔ زندانیان در زندان گوانتانامو اعتراف رسمی بالاترین مرجع قانون‌گذاری در ایالات متحدهٔ امریکا به نقض حقوق بشر توسط این کشور است، اما آنچه که در این گزارش آمده تلاشی است به منظور پنهان کردن حقایق هولناک از جنایات "سی آی ای" در گوانتانامو وسایر زندان‌های امریکا. در این گزارش از یک طرف تلاش شده تا با اعتراف به مواردی از شکنجه مانند سیلی زدن، تحقیر، کوبیدن متهم به دیوار، نگهداشتن زندانی بصورت برهنه در هوای سرد، بیخوابی دادن‌های متوالی و غرق مصنوعی در آب که مانع نفس کشیدن زندانی شده است، موارد هولناک دیگری از شکنجه را پنهان کنند و در عین حال این اعمال هم، مانند ماجرای خفه شدن اریگ گارنر کار یک گروه کوچک بشمار آید، نه سیاست دولت امریکا.

## کتمان جنایات وحشتناک‌تر:

آنچه که در این گزارش آمده به هیچ صورت تازگی ندارد و در گذشته نیز گاه‌گاهی از زبان زندانیانی که از گوانتانامو آزاد شده بودند، شمه‌ای از این شکنجه‌ها بگوش رسیده و عکس‌ها وحتی ویدیوهایی هم از شکنجه‌ها منتشر شده بود. اما نشر رسمی این گزارش در این برهه از زمان سوالاتی را بمیان می‌آورد.

در گزارشی که به نشر رسیده هیچ اشاره‌ای در مورد زندانیانی که دست به خودکشی زدند نمی‌یابیم؛ زندانیانی که به دلیل شکنجه‌های روحی بحدی تحت فشار قرار گرفتند که دست به خودکشی زدند و بعد از خودکشی آنان، مقامات "سی آی ای" گفتند که خودکشی آنها هم یک دسیسه علیه امریکا بود!!

در 11 جون 2006 خبرگزاری‌ها خبر دادند که سه زندانی در زندان گوانتامو خودکشی کردند. در سال 2007 خبرگزاری آسوشیتدپرس گزارش داد که یک زندانی زندان گوانتانامو ده بار تلاش به خودکشی نموده، اما زندانبانان مانع خودکشی وی شده‌اند. وی به دلیل نامعلوم بودن سرنوشتش امیدوار است که سرانجام، موفق به خودکشی خواهد شد.

این زندانی 33 ساله که جمعه محمد الدساری نام داشت در نامه‌ای که توسط این خبرگزاری به نشر رسید، نوشته بود که «ما در اینجا به بدترین ظلم و شکنجۀ بدنی مواجه هستیم».

تا سال 2012 لااقل هفت زندانی در زندان گوانتانامو خودکشی کردند که هفتمین زندانی «عدنان عبدالطیف» 32 ساله اهل یمن بود. سه ماه بعد از مرگ وی، مقامات امریکایی اعلام نمودند که دلیل مرگ عبدالطیف خودکشی بوده است و دیوید رمز وکیل مدافع عبدالطیف گفته بود که موکلش در اثر استفادۀ بیش از حد دارو مرده و در زندانی که تحت مراقبت شدید قرار دارد، وی به ارادۀ خود نمی‌توانست این کار را بکند. او از بیماری نفس تنگی رنج می‌برد، اما هیچ مراقبت طبی از وی بعمل نیامد و ظاهرا در سلول خود رها شده بود و مانند اریگ گارنر «نمی‌توانست نفس بکشد».

به احتمال قوی عبدالطیف به دلیل مریضی، مزاحم برای زندانبانش بشمار می‌آمد و آنها نیز ترجیح دادند این مزاحم را بکشند با توجه به شرایط مرگ این زندانی، وکیل وی مدعی شد که امریکایی‌ها بدون اینکه رد پایی از خود برجا بگذارند، موکلش را کشته‌اند. این زندانی مدت 11 سال را در گوانتامو بدون اینکه به وی تفهیم اتهام گردد، گذراند.

نگاهی به این گزارش نشان می‌دهد که در مقایسه با آنچه که واقعا در گوانتانامو اتفاق افتاده، این گزارش فقط به موارد کم اهمیت‌تر پرداخته تا جنایات هولناکی را که در این زندان اتفاق افتاده است، کتمان کند. بعنوان مثال زندانیان آزاد

شده از زندان گوانتانامو از وجود یک بلاک مستقل برای زندانیانی که تعادل عصبی خود را از دست دادند و دیوانه شدند، سخن گفته‌اند. گاهی زندانیان دیگر را برای شکنجه به سلول همین دیوانه‌ها می‌بردند تا به این وسیله آنها را از طریق بی‌خوابی شکنجه بدهند. در این گزارش در مورد گرسنگی دادن‌های طاقت فرسای زندانیان سخنی در میان نیست.

## خاطرات زندانیان سابق:

دو تن از زندانیان افغان این زندان «عبدالرحیم مسلم دوست» و «ملا عبدالسلام ضعیف» پس از آزادی از گوانتانامو، خاطرات خود را بدست نشر سپردند.

ملاعبدالسلام ضعیف زندانی سابق گوانتانامو در کتابی بنام «تصویری از گوانتانامو» شکنجه‌های روحی و جسمی این زندان را بصورت مختصر چنین بر می‌شمارد:

1- عدم موجودیت قانون.
2- دادن جزاهای خلاف کرامت انسانی و بی‌جا و بی‌مورد.
3- خشونت سربازان.
4- معلوم نبودن سرنوشت زندانی و آیندۀ نامعلوم.
5- زندانی شدن‌های طولانی در سلول‌های انفرادی.
6- توهین به مقدسات مانند قرآن کریم.
7- اجازه ندادن مطالعۀ کتاب و نبود سرگرمی که موجب می‌شد زندانی همیشه در فکر واندیشه بسر ببرد.
8- دادن بی‌خوابی‌های متوالی که گاهی ماه‌ها بطول می‌انجامید و زندانی را به بیماریهای روانی مبتلا می‌ساخت.
9- شکنجه‌های تحقیرآمیز مثلا برهنه کردن.
10- دادن اطلاعات نادرست به زندانیان در مورد خانواده‌های شان از طریق اخبار نادرست می‌توانست موجب فشار روانی بر زندانی گردد.
11- زندانی مریض را بصورت کامل معالجه نمی‌کردند تا همیشه در مورد صحت خود نگران باشد.
12- تأخیر در دادن نامه‌های زندانیان از طرف خانواده‌های شان. در اکثر موارد بعضی از سطور نامه‌ها را از بین می‌بردند تا در ذهن زندانی در مورد خانواده‌اش نگرانی ایجاد کنند.

## تأثیرات این شکنجه‌ها بر امنیت جهان:

مخالفین شنکنجه در کنگره، مقامات "سی آی ای" را به گمراه کردن دولت امریکا و دادن اطمینان‌های غلط در مورد اقدامات شان متهم می‌کنند و می‌گویند که شکنجهٔ زندانیان هیچ کمکی به پیشگیری از اقدامات تروریستی نکرده بود. اطلاعات بدست آمده از زندانیانی که شکنجه شدند یا ناقص ویا نادرست بود وزندانیان بخاطر نجات خود از شکنجه و درد، داستان جعل کرده بودند.

اما این گزارش به این نکته اشاره نکرده است که چرا زندانیان این زندان پس از آزادی، مبدل به چهره‌های شدیداً ضد امریکایی شده‌اند که می‌خواهند حتی به قیمت جان شان از امریکا انتقام بگیرند. بعنوان مثال: عبدالرحیم مسلم دوست قبل از زندانی شدن توسط سازمان "سیا"، نه رابطه‌ای با القاعده داشت و نه با طالبان. او یک تاجر کوچک صابون در پیشاور پاکستان بود که در عین حال اوقات فراغت را به نوشتن و ترجمهٔ کتاب و مقاله می‌گذرانید.

اما همین شخص بعد از آزادی از زندان گوانتانامو اکنون بار دیگر مورد تعقیب امریکاست، زیرا نمایندگی از یکی از تندرو ترین گروه‌های خشونت‌گرای مسلح یعنی گروه دولت اسلامی به رهبر ی ابوبکر البغدادی در آسیای جنوبی می‌نماید. آیا شکنجه در زندان‌های امریکا، موجب بمیان آمدن دنیای بهتری برای ما شده است؟!

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل:info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (+93)